"د سکولونو دننه"

# د پښتو د ژبې قابل رحم حالت

## د وزیر تعلیم صاحب د توجه دپاره

خبر لوڅے

کهٔ تازي ژبه هر ګوره ښهٔ ده
فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده
چا ئې پلو د جمال وانهٔ خست
پښتو لا هسې بکره پرته ده

خوشحال خان خټک

ډېره د خوشحالۍ خبره ده چې د پښتون قوم مشران نن خپلې ژبې ته په درانهٔ نظر ګوري او خپلې ژبې ته د صوبې په سکولونو کښې تعلیمي ځائے ورکوي، خبر نهٔ یم چې دا مبارک او قوم جوړونکے تجویز به کله عملي شکل ویني خو دومره خو ضرور خبر یم چې په موجوده وخت کښې د سرحدي سکولونو دننه د پښتو ژبې حالت قابل رحم دے، ذمه وار افسران چې اکثر غېر پښتانهٔ دي، پښتو ژبې ته ډېر د حقارت په نظر ګوري او هغوي په هرې ممکنې طریقې سره د پښتو ژبې په سکولونو کښې د رائج کېدو مخالفت کوي.

د ۱۹۳۵ راسې د دې صوبې په تعلیمي کوډ یا دستورالعمل کښې د دې خبرې ګنجائش کېښودلے شوے دے کهٔ چرې پښتانهٔ هلکان غواړي، نو پښتو ژبه په حېثیت د یو مضمون د اتم جماعت امتحان پاس کولو دپاره اخستلے شي، لېکن غېر پښتنو هېډ ماسټرانو او انسپکټرانو دا خبره داسې په کمال استاذۍ پټه ساتلې ده چې تر اوسه پورې د هائي سکولونو هلکانو ته د دې خبرې هېڅ علم نشته.

په لسم جماعت کښې هم پښتانهٔ هلکان کهٔ غواړي نو پښتو په حېثیت د یو مضمون اخستلے شي، لېکن د غېر پښتنو هېډ ماسټرانو او استاذانو د ګمراه کن لمسون په برکت ډېر کم پښتانهٔ هلکان



پښتو په حېثيت د يو مضمون اخلي، بالفرض کۀ ځني هلکان د پښتو وئيلو خواهش ظاهر هم کړي، نو هېډ ماسټر پرې دومره دپکې وکړي چې د هغوي خُلۀ د همېشه دپاره چپ کړي، غېر پښتانۀ استاذان په جار هلکانو ته ترغيب ورکوي چې پښتانۀ خرۀ دي، پښتو د خرو ژبه ده، پښتانۀ دوزخيان دي، پښتو د دوزخيانو ژبه ده، پښتانۀ جاهلان او کوهستانيان دي، پښتو د جاهلانو او کوهستانيانو ژبه ده، پښتو په ټين کښې کاڼي شړنګول دي وغېره وغېره او په دې چلونو د پښتنو هلکانو قومي جذبات زخمي کوي. د پښتنو په نظر کښې پښتون قوم، د پښتون وطن او پښتو ژبه سپکه راولي او د خپل تهذيب او خپلې ژبې رنګ پرې غالب ساتي.

او د غېر پښتنو انسپکټرانو صاحبانو خو تر دې حده پورې د پښتو ژبې نه نفرت دے چې يو انسپکټر صاحب يو سکول ته د معائنې دپاره تشريف وروړے ؤ، هلته يو پښتون استاذ د صوبې



د تعليم کوډ يا دستورالعمل مطابق هلکانو ته پښتو په حېثيت د يو مضمون ښودله انسپکټر صاحب په استاذ ډېرې دپکې وکړې او په لاګ بُک کښې ئې ورله وليکل چې پښتو د جاهلانو ژبه ده، د دې په ځائے بل مضمون ښايه او اخلاقي جرات په کښې دومره قدر ؤ چې دستخط ئې لاندې ونۀ کړو.

عجيبه خبره خو دا ده چې طالب علمان پښتانۀ، صوبه د پښتنو او قوم د پښتنون دے او د پښتنو صوبه کښې سېوا د پښتو ژبې نه چې د صوبې د خلقو ژبه ده، باقي د ټولو ژبو لکه اردو، پنجابي، ګورمکي، هندي، فارسي، عربي او سنسکرت وغېره دپاره د صوبې په سکولونو کښې استاذان هم شته او سرکاري انتظام هم شته خو يواځې پښتو په دې ګناه مجرمه ده چې نۀ سکولونو کښې د پښتو ښودلو دپاره سرکاري انتظام شته او نۀ غېر پښتانۀ هېډ ماسټران دا غواړي چې د پښتو ژبې دپاره څۀ انتظام وکړے شي.

کۀ چرې کانګرسي منسټري او وزيرتعليم صاحب په رښتيا سره دا غواړي، چې د پښتنو صوبه کښې دې پښتو علمي حېثيت ونيسي نو ضروري ده چې په سختئ سره دې ذمه وارو افسرانو او د سکولونو هېډ ماسټرانو ته احکام ولېږلے شي چې هغوي د دې نه پس له هېڅ قسمه خنډونه د پښتو ژبې د تعليم په لار کښې وانۀ چوي بلکې په کار دا دي چې پښتانۀ هلکان دې د پښتو په وئيلو په سکولونو کښې مجبور کړے شي، کۀ داسې ونۀ شي نو خبر نۀ يو چې په پرائمري کښې به ذريعه د

تعلیم کله پښتو جوړېږي، دومره خو به ضرور وشي
چې د هائي سکولونو نه به پښتو زر رخصت شي.

(یو خبر لوڅے)
(پښتون ۲۱ مئ ۱۹۳۸)